safar

# په خدای باندې باور

## د زړه له کومې

### د پیل ټکی

مونږ هره ورځ په خپل ژوند کې، یو چاته یا یوشي ته د باور کچه ښیوو. کله چې په څوکۍ باندې کښېنو، باور لرو چې څوکۍ به مونږ وساتي، کله چې په یوه نقلیه وسیله کې سوربږو، په چلونکي یې باور کوو. کله چې ډوډۍ خورو، په اشپز باندې باور کوو، د هغو ورځني فعالیتونو لست چې د باور وړ دي، بې_شمېره دي.

په تېره هفته کې، په چا باندې یا په څه شي باندې مو باید باور کړای وای؟ د هغه په هکله توضیحات ورکړئ.

### بحث او خبرې

ژوند پرته له باوره ممکن نه دی.
دا مسئله په یقین سره د ژوند د لویو مسایلو سره ورته دي. مونږ ټول د مهمو پریکړو په وخت کې کوم چې زمونږ د ژوند لاره ټاکي، په کس یا څه باندې باور کوو. نو ځکه پوښتنه دا ده چې بالاخره مونږ په چا یا څه باندې باور وکړو؟ په خاصه توګه کله چې د سختو او ستونزمنو شرایطو سره مخامخ یوو.

دلته د هغه کسانو نومونه اخلو چې مونږ په هغوی باندې باور کوو:

- کورنۍ او دوستان
- د باور وړ مشران
- مونږ پخپله

### بحث او خبرې

دلته مونږ هغه شیانو ته اشاره کوو، چې په منظم ډول په هغه باندې باور کوو:

- شتمني
- هوښیاري
- خوند

1. فکر کوئ نور کوم شیان دي، چې مونږ په هغوی باندې باور کوو؟
2. په کوم شي باندې زیات باور کوئ، په خاصه توګه کله چې د فشار لاندې یئ؟
3. ولې دا شیان هېڅ د باور وړ نه دي؟

### اصلي مفکوره

**په خدای باندې باور ولرئ.** د ژوند سفر د لوړو او ژورو نه ډک دی او تل زمونږ د تمې سره سم مخکې نه ځي. کله مونږ وسوسه کېږو چې د چارو سمبالوول په لاس کې واخلو او یا خپله لاره بدله کړو.
د سپېڅلي کتاب د متلونو په ۳: ۵-۶ کې داسې وایي:
«د زړه له کومې په خدای باندې توکل وکړه، په خپل عقل باندې تکیه مه کوه، په خپلو ټولو لارو کې هغه په نظر کې ولره، هغه به ستاسو لارې سمې کړي.»
یوازې یو کس شته چې تل د باور وړ دی او هغه یوازې خدای دی.
په خدای باندې د باور کولو ډېر دلیلونه شته، نو راځئ دلته د خدای درې صفتونه وڅېړو چې د هغه له مخې کولای شو په خدای باندې باور او اطمنان ولرو.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

safar

1. خدای په مطلقه توګه نېک دی ـ هېڅ ظلم او تیاره په هغه کې نه شته، په هغه کې هېڅ خودغرضه انګېزه نه موندل کیږي، هغه یوازې د پاکۍ، عدالت او مینې د موقیعته عمل کوي. مونږ کولای شو په هغه باندې باور وکړو، ځکه هغه په پوره توګه نېک دی.
2. خدای مطلق قادر دی. هېڅ شی هغه نه غافلوي، د هغه دپاره هېڅ معما نه شته، هغه هېڅکله د خواب ورکولو څخه ډېره نه کوي.نو دا د خدای د مطلقې پوهې او حکمت له امله دی، چې مونږ کولای شو په هغه باندې توکل وکړو.
3. خدای په پوره توګه قدرتمند دی. په نړۍ کې د هغه په شان هېڅوک قدرتمند نه شته، هغه د هر هغه کار چې مقصد یې دی په سرته رسولو کې پوره توان لري، او هغه د دې توان او قدرت لري چې هره وعده یې چې کړې ده، سرته ورسوي. مونږ کولای شو په هغه باندې توکل وکړو ځکه هغه مطلق قادر دی. یوازې خدای دی، چې مونږ به هېڅکله ناکامه نکړي. هغه نېک، د پوره پوهې خاوند او قدرتمند دی. هغه په پوره توګه زمونږ د باور وړ دی. هغه یوازینې کس دی چې مونږ ته د ژوند په سفر کې لارښوونه کوي.

## په کلام باندې تعمق او غور

ولې د خدای دا درې صفتونه د اهمیت وړ دي؟

لاندې ایتونه ولولئ او غوره یې کړئ، د دې ایتونو نه د خدای د صفتونو څخه کوم صفت مونږ ته باور را کوي: ـ د هغه نیېي، د هغه حکمت، یا د هغه قدرت ـ

- یعقوب ۱: ۱۷
- زبور ۱۴۷: ۵
- متی ۱۹: ۲۶
- رومیان ۸: ۳۱ـ۳۹

کوم ایت ستاسو دپاره ډېر غوره دی؟ ولې؟

نور د خدای کوم صفتونه پېژنئ چې مونږ سره مرسته کوي، چې په هغه باور وکړو؟

## همدا اوس په ګډه تمرین وکړئ.

ایا ستاسو زړه د خدای په نیکۍ، حکمت او قدرت باندې شک لري؟ په خپلې بې_باورۍ باندې اعتراف وکړئ او ایمان ولرئ چې خدای په پوره توګه د باور وړ دی.

متلونه ۳: ۵ـ۶ یو ځل بیا ولولئ.

- په کومه برخه کې تاسو دې ته اړتیا لرئ چې په پوره توګه په خدای باندې باور وکړئ؟ کېدای شي هغه له تاسو څخه وغواړي چې یو ستونزمن یا حیرانوونکی کار سرته ورسوئ.

کېدای شي تاسو یوه اړیکه لرئ چې ستاسو د اندیښني سبب کیږي.
یا امکان لري چې ستاسي مالي شرایط ستاسو د اندېښني سبب کرځېدلی وي.

- څنګه کولای شئ په دې راتلونکې ه کې په جدي توګه په خدای باندې باور وکړئ؟

په ګډه دعا وکړئ او وغواړئ چې:

- د زړه له کومې په خدای باندې باور وکړئ.
- په خپلو ټولو لارو کې خدای په نظر کې ولرئ.
- انتظار وباسئ چې څښتن ستاسي لارې سمې کړي.

کولای شئ د دې دعا نه کار واخلئ.
"پلار جانه، همدا اوس مې پرېکړه وکړه چې بیا په تا باندې باور وکړم، څښتنه ته نېک، حکیم او قدرتمند یې. په تا باندې ایمان لرم او ټول شیان تاته سپارم."
څښتنه، خپلې ستونزې او سختۍ ستا حضور ته راوړم. زه وسوسه کیږم چې په ________ باور وکړم، خو د دې په ځای

safar

مي په تا باندې باور وکړ. تا نه غواړم چې خپله نيکي، حکمت او قدرت زما په حالت کې جاري کړي.
کله چې وايي ماته لاربښوونه کوې، په تا باندې ايمان لرم. مهمه نه ده چې کومه نتيجه به ولري، زه ستا د لاربښوونې، ساتنې او ستا د پاملرنې څخه شکرگذاريم.
پلار جانه، مننه کوم چې له ما سره مينه لرې او مننه چې ډېر د باور وړ يې.

## هره ورځ خپل تمرين تکرار کړئ.

- که ستاسو دپاره ممکنه وي، د يو بل ايمانداره سره خبرې وکړئ او له هغه وپوښتئ چې د خدای د باور په اړه مو کوم درسونه زده کړي دي.
- په هغه لاره کې چې خدای په دې وروستيو کې تاسو ته وفادار ؤ، غور وکړئ. او له هغه مننه وکړئ چې د باور وړ دی.
- په کومو ځايونو کې لاربښوونې ته اړتيا لرئ؟ په راتلونکې هفته کې بايد کومې پرېکړې وکړئ؟ ايا ايمان لرئ چې خدای دې پرېکړو ته اهميت ورکوي؟
  - په دې هفته کې له ځان سره ژمنه وکړئ، هغه پرېکړه چې کوئ په خدای باندې باور ولرئ او له هغه نه اطاعت وکړئ.
  - د روح القدس د اواز د اورېدلو دپاره څو شېبې چپ پاتې شئ.
    - زبور ۶۲: ۸
    - اشعيا ۲۶: ۳-۴
    - روميان ۱۵: ۱۳
    - فيليپيان ۴: ۶

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved